# مورنۍ ژبې او روانه سرشمېره

نوید جمال لیکچرار پښتو څانګه

د مورنو ژبو په حواله زمونږ په ملک کښې د ډېر وخت نه د بې حسۍ او لا پرواهۍ عمل روان دے ــ هم دغه وجه ده چې زمونږ د ملک ګڼ شمېر ورې ژبې او د دغو ژبو ویونکي د احساس کمترۍ او احساس محرومۍ ښکار دي ۔ د ژبو په مد کښې عالمي شمېره دا ده چې نن زمونږ په ملک کښې تقریباً اوویشت ژبې داسې دي چې د ورکې د خطرو سره مخ دي ــ دغه اعلان د اقوام متحده د ادارې یونیسکو له خوا شوے دے چې د پاکستان د اوویشتو وړو ژبو سره د نړۍ دوه زره ژبې د ورکېدو او ختمېدو د خطرې سره مخ دي. د پاکستان په دغو اوویشتو وړو ژبو کښې براهوی، بلتی، مائیا(مائین)، پورک، پهلور، کلاشه، خووار بهادرواهي، چلیسو، دامیلی، ډوماکی، ګوار، باټې، ګاورې، جاد، کاټې، خووار، کنډل شاهي، اورمړی، پهلورا، سوی، سپټې، توروالی، اوشوجو، واکهي، یدغا اور زنګسکاری شاملې دي ــ په دې وړو ژبو تر اوسه د تحقیق زیارونه زیات تر بهرنو محققینو تر سره کړي دي او ددې ژبو د ویونکیو د شمېر او د لساني جغرافئې په حواله ئې معلومات راغونډ کړي دي ۔ زمونږ په ملک کښې تر دې دمه چې څومره هم ادارې او تحقیقي مرکزونه جوړ کړې شوي دي په هغې کښې د تحقیق زیات کار په لویو ژبو شوے دے او کېږي ولې د وړو ژبو په حواله نۀ خو د دغو ژبو ویونکي محقیقین راپېدا شو او نۀ دغو ادارو څه ګټور او سودمند تحقیق مخې ته راوړے دے ۔ اوس چې په ملک دننه کومه سر شمېره (مردم شماري) روانه ده په دغه کښې هم صرف نهه لوئې ژبې شاملې کړې شوي دي او باقي وړې ژبې نظر انداز کړې شوي دي ـــ چې زمونږ قامي بې حسي ترې ثابتېږي ۔

د پاکستان په مختلفو علاقو کښې د وړو او لویو ژبو د ویونکیو په حواله بهرنې تحقیق دا دے چې دلته د ژبو د څلورو خاندانونو سره تعلق لرونکې ژبې وئیلې کېږي چې پکښې هند یورپي (اردو، پنجابي، هندکو وغېره)، هند ایراني (بلوچي، پښتو وغېره)، دراوړي (براهوي)، چیني تبتي (بلتي))، او دغه رنګ په هنزه کښې بروشسکي داسې ژبه ده چې د نړۍ د نورو ژبو او د ژبو د خاندانونو سره یې هیڅ تعلق نشته نو ځکه دا یو ځانګړے د ژبو خاندان تصور کولے شو ۔ د ناروۍ سره تعلق لرونکے محقیق او ماهر لسانیات (ژبپوه) ګیورګ مورګن ستائزن دعوىٰ لري چې د پاکستان د چترال ضلع د ژبو په حواله د دنیا د ټولو نه زرخېزه علاقه ده او په دغه وړه شان ضلع کښې د لسو پورې مختلفې ژبې وئیلې شي.

زمونږ په ملک کښې تقریباً څلور اوویا ژبې وئیلے کېږي چې پکښې د اکثره ژبو په سر دغه د ورکې خطره راغلې ده۔ په دې ژبو کښې "بدیشي "داسې ژبه ده چې اوس یې ویونکي هډو په لاس نه راځي۔ یوه بله ژبه" اورمړي "چې د وزیرستان په علاقه کښې وئیلے شوه اوس د خرابو حالاتو له وجې ددې ژبې ویونکي د ملک په مختلفو علاقو کښې خواره دي او تر دې چې دې ژبې خپله زمکه اوبائلله او د ورکې د خطرو سره مخ ده۔ دغه رنګ د ډېرو ژبو د ویونکو شمېره د زرو کسو نه هم کمه پاتې شوې ده او د لویو ژبو په سیوري کښې د دغو ژبو وده په ځائے ولاړه ده۔ دا خبرې اندازې دي چې زیات تره د بهرنو محققینو په تحقیق اډانه دي ولې زمونږ د ملک سره داسې هیڅ قسمه سرکاري ریکارډ لا تر اوسه نشته چې د مختلفو ژبو د ویونکیو شمېره او د علاقې صحیح معلومات ترې حاصل شي۔

د دې ژبو د تحفظ، شناخت او ترویج په حواله په حکومتي سطح چې کومه بې غوري او لاپرواهي روانه ده د هغې اندازه د رواني سر شمېرې نه ښه په اسانه کېدے شي۔ په څلور اوویا ژبو کښې صرف د نهه ژبو شمېر د سر شمېرې په فارم کښې درج کړے شوے دے او باقي پنځه شپېته ژبې یې د" دیګر "د لفظ په ذریعه نظر انداز کړي دي ــــ په دغه نهه ژبو کښې د هرې صوبې نه دوه دوه لوئې ژبې اخستې دي چې پکښې د پنجاب نه پنجابي او سرائیکي، د بلوچستان نه بلوچي او براهوي، د سندهـ نه سندهي او اردو، د خیبر پښتونخوا نه پښتو او هندکو او د کشمیر نه کشمیري ژبه انتخاب کړې شوې ده ـــ د سر شمېرې په دغه اندراج کښې د ټولو نه لوئے زیاتے د ګلګت بلتستان د ژبو سره شوے دے چې د دغو علاقو اهمې ژبې یې نظر انداز کړي دي۔

په تېرو وختونو کښې د اکادمي ادبیات اسلام آباد له خوا یو بین العقوامي کانفرنس شوے وو چې پکښې د ژبو په ذریعه د قومي یکجهتۍ او قامي هم آهنګۍ دپاره د ژبو په اهمیت خبرې اترې کېدې او دغه رنګ د علامه اقبال اوپن یونیورستۍ د پاکستاني ژبو د شعبې له اړخه قامي کانفرنس هم" په پاکستاني ژبو کښې د امن او آشتۍ پېغام "په نوم راجوړ کړے شوے وو ـــ اوس اوس په اسلامیه کالج یونیورستۍ کښې هم د اکادمي ادبیات اسلام له خوا په قومي هم اهنګۍ کښې د ادب کردار په حواله د بحث مباحثې دپاره ګڼ پوهان، شاعران او ادیبان راغوښتې شوي وو۔ ولې دغه ټولې هڅې لکه چې په بوسو کښې د اوبو په مثال وې۔ ځکه چې په ملک دننه ددغه ټولو ادارو او تحقیقي مرکزونو دپاره دا یوه اهمه موقعه وه چې د سر شمېرې په دغه روان عمل کښې زمونږ قامي ژبې هم شمېرلې شوې وے او په دغه وړو او لویو ژبو تحقیق ته لارې هوارې شوې وې ولې د افسوس خبره دا ده چې په حکومتي کچ د ژبو د تحفظ، پرمختګ او پېژندګلو دپاره چې کومه لا پرواهي او بې حسي وه هغه تر ننه وجود لري۔ که زمونږ د قامي ژبو سره دغه عمل هم دغه رنګ پاتې شو نو مونږ به په راروان کښې د ژبو د یو لوئې سرمائې او ورثې نه محرومه شو.